







فريد احمد « تسکين » ــ پکتيا



د نشر نيټه : ۱۵ اپريل ۲۰۱۳ ميلادی


# فلسفه




زه د الفت د فلسفي لاروی
غواړم د مينې فلسفه
د خپل زړګي د ښوونځي له لارې
خلکو ته ورسوم پوی یې کړمه
چې مينه ژوند ته مينه خوند ته پيدا
مينه د دوو زړونو پيوند ته پيدا

مینه تیارو کې دې رڼا را ولي
پیکه ماحول ته دې ښکلا راولي
خو خلکو ښکلي چې دي!
لکه سر زورو پښتنو غوندې رڼا نه غواړي
له بدرنګیو څخه خوند اخلي ښکلا نه غواړي
وایي په جنګ او په جګړو کې لوی شوو
کرکه مو زده کړه بدبینیو،تورتمو کې لوی شوو
موږ د یوبل له وینو خوند اخلو
همدا مو زده دي
نواوس
زموږ لمنه مه نیسه او لرې لاړشه
ستا نصیحت او فلسفه څه کوو
ځه رانه ورک شه
چې تسکینه بیا دې و نه وینم
دا فلسفه دې مخې جیب کې کیږده
د غفار خان غوندې دې ځان نه لیونی جوړ کړی

*****

فرید احمد « تسکین »

۲۲/۱/۱۳۹۲ ورى
پکتیا کور، ګردیز

بازگشت به صفحه اصلی - www.said-afghani.org